**له معنوي  پلوه د روژې عبادت باید احساساتي نه؛ بلکې له اخلاص او زغمه ډک وي**



یو وخت یوې صحابې مېرمنې نصیبه بنت کعب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل، چې په قرآن کې خو یوازې د نارینهو یادونه شوې او د ښځو اهمیت په کې له پامه غورځول شوی. نو په اړه یې لاندې ایات نازل شو.

**﴿إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِينَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِينَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِينَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِينَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصَّآئِمِينَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَّالذّٰكِرٰتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَّأَجْرًا عَظِيمًا﴾**

[الاحزاب:۳۵]

*ژباړه: له شکه پرته مسلمان نارینه او مسلماني ښځې، مومنان نارینه او مومنې ښځې، امر منونکي نارینه او امر منونکې ښځې، رېښتیني نارینه او رېښتینې ښځې، صبر کوونکي نارینه او صبر کوونکې ښځې، د الله پر وړاندې سر ټیټوونکي نارینه او سر ټیټوونکې ښځې، خیرات ورکوونکي نارینه او خیرات ورکوونکې ښځې، روژه نیوونکي نارینه او روژه نیوونکې ښځې، پاک لمن نارینه او پاک لمنې ښځې، د الله ډېر ډېر یادوونکي نارینه او د الله ډېر ډېر یادوونکې ښځې دا (لس واړه ډوله) خلک هغه کسان دي، چې الله د هغوی لپاره بښنه او لوی اجر چمتو کړی دی.*

د همدې ایات له مخې په اسلام کې نارینه او ښځې د الله سبحانه و تعالی پر وړاندې له یو ډول ثواب او اجر څخه برخمن دي. له دې ایت څخه ښکاري، چې الله سبحانه و تعالی ته جنسیت نه بلکې تقوا ارزښت لري. هغو متقیینو چې په نړۍ کې یې خپل ټول ژوند د خپل پالونکي له اصولو سره سم جوړ کړی وي، نو دغو واقعتونو ته په کتو سره مسلمانې ښځې باید پوه شي، چې د روژې مبارکه میاشت د ښځو او نارینهوو لپاره یوه ځانګړې میاشت ده او د دې یادونه نه ده شوې چې زیات خواړه د تیار شي، بلکې د الله رضا او زیات ثوابونه د په دې مبارکه میاشت کې ترلاسه شي، چې هر نیک عمل له ۷۰ ځله زیات ثواب لري او هر هغه څوک چې الله ته رېښتینی وي، له پورتني ایت سره سم که د الله سبحانه و تعالی خوښه وي ښېل کېږی او زیات اجر ترلاسه کوي!.

که د اسلام او صحابوو تېر تاریخ ته ور وګرځو راته جوته به شي، چې د روژې په میاشت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه صحابه وو په زړونو کې څومره تقوا او اخلاص وو. دوی به زموږ په څېر روژه نیوله، د شپې به یې لمونځونه

کول، بې وزلې روژه نیونکي به یې مړول او همدارنګه صدقه به یې ورکوله، له دې سره سره به یې په دې سپېڅلې میاشت کې فتوحات کول، سیاسي معاهدې به یې کولې او د ټول اسلامي امت چارې به یې پر غاړه اخیستې وې.

مسلمانانو په دې سپېڅلې میاشت کې ځینې د پام وړ فتوحات کړي دي، لکه: د بدر غزا چې د جمعې په ورځ د روژې پر اوولسمه وشوه او په دې جګړه کې الله سبحانه و تعالی مسلمانانو ته برۍ ورپه برخه کړ. همداراز د حدیبیې تړون له ماتولو سره سم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته موکه برابره شوه، چې په اتم هجري کال د روژې پر ۲۰مه له کومې جګړې پرته مکه فتحه کړي. بله بریا په ۹۲ هجري کال کې د ویزغوتیانو له ظالم پاچا رودریک (Roderic of the Visigoths) څخه د اسپانیې ازادول و،چې طارق بن زیاد د ویزغوت پوځ په ماتې سره د اندلس طلایي لړۍ پیل کړه، چې ۷۰۰ کاله مسلمانان پرې واکمن وو. مغولي امپراطوري هم د روژې په میاشت (۶۵۸هـ) کې ړنګه شوه او په اسیا کې مغول هغه ښکېلاکګر قوم و، چې د خپل ښکېلاک په لاره کې به یې هر څه له منځه وړل. الله سبحانه و تعالی د مصر له مملوک څخه سیف الدین قدس راپورته کړ، ده ټول اسلامي پوځ یو موټی کړ او په عین جالوت کې یې مغول له ماتې سره مخ کړ. په ۵۸۲ م کال کې د صلاح الدین ایوبي له لوري د فلسطین ازادي هم له پامه نه شي غورځېدلی او دا په اسلامي تاریخ کې ډېره مهمه جګړه بلل شوې ده، چې په یوه ورځ کې یې د صلیبیانو رېښې له ستې وایستې او فلسطین یې ازاد کړ.

صحابه‌وو او صحابي ښځو په دې لویو جګړو کې ګډون درلود. د هغوی له ډلې څخه روفیضه بنت سعد الاسلمیه وه، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې د اسلام لمړنۍ نرسه ګڼل کېږي او دغې مېرمنې د روژې میاشت د بدر په غزا کې د زخمیانو درملنه کوله. یوه بله بېلګه لیلا الغفاریه ده ، چې دې هم په غزاګانو کې برخه اخیستې وه؛ اوبه یې وړلې او د زخمیانو درملنه به یې کوله. بله صحابیه ام ضحاک بنت مسعود ده، چې په غزاګانو کې یې برخه اخیستله او د نارینه و په څېر به په غنیمت کې ونډه ورکول کېده. زموږ مسلمانو ښځو لپاره یوه بله بېلګه ام سلمه ده، چې د اسلام په تاریخ کې یې په ډېرو مهمو غزاګانو کې برخه اخیستې ده. نوموړې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځای د بني مسطلق، طایف، خیبر، حنین په غزاګانو او د مکې د فتحې په غزا کې، چې د روژې په مبارکه میاشت کې شوې وه، برخه اخستې. نوموړې د حدیبیې او رضوان تاریخي تړون د امضاء کېدو پر مهال هم شتون درلود.

البته دا د صحابي ښځو یو څو بېلګې وې او دوی زموږ لپاره نن ورځ یوه نمونه ده. دوی زړه ورې، اخلاصمنې او تقوا لرونکې مېرمنې وې، چې د ژوند په ټولو برخو کې به یې د اسلام د پراخوالي لپاره کار کاوه او دا هر څه یې د روژې په میاشت کې ترسره کړي. تېرو مسلمانانو خپل ژوند د نفسي غوښتنو پر بنسټ ځانګړو عبادتونو ته نه و وېشلی. دوی د روژې په میاشت کې د احساساتي غوښتنو له مخې عبادت نه کاوه، چې د تدین د غریزې پر مټ خپل وخت یوازې لمانځه، روژې نیولو او د قران کریم تلاوت ته ځانګړی کړي. بلکې دوی به اسلام د ژوند د معیار په توګه د ژوند په ټولو اړخونو کې په پام کې نیوه او یو ځانګړی فرق یې دا و، چې روژې میاشتې ته یې د لویو اجرونو د ترلاسه کولو په موخه خورا ارزښت ورکاوه او له همدې امله به روژه دوی ته سپېڅلې میاشت وه.

له همدې امله اسلامي امت ته په کار ده، چې د تېرو متقینو پر پلونو پل کېږدي. د صحابه وو او صحابي ښځو په څېر د روژې میاشتې واقعي مفهوم د ژوند یوه برخه وګرځوي.

په پایله کې د روژې په میاشت کې او له روژې وروسته پر نبوي طریقه باندې د خلافت بیا ځلي راتګ ته کار کول فرض دي، ځکه امت ډال نه لري او دا د هر نارینه او ښځینه دنده ده چې د دغې ټاکلې موخې لپاره هڅې وکړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې ته**

**لیکواله: امانه عابد**

**ژباړن:افغان**